# په اسلام کښې د زنانو ذمه وارياني

پښتو

دَ مسلمانانو دَ معاشرے په اصلاح کښې د ښځو برخه او کردار ،
ذمه داريانو او هداياتو باندے مشتمل يو ښائسته او مفيده رساله




مرتب
مولانا مفتی محمد اياز درانی
صاحب حفظه الله



العلم پبليکيشنز

# په اسلام کښي د زنانو ذمه واریاني

ابو معاویه مولانا مفتی محمد ایاز حفظه الله

العلم پبلیکیشنز محله جنګی پیښور
091-2590315

# فهرست


| نمبر شمار | عنوانات | صفحه |
|---|---|---|
| 1. | حرف آغاز | 01 |
| 2. | حقیقی مسلمان | 05 |
| 3. | غیر شعوری مسلمان | 06 |
| 4. | د مسلمان کیدلو معنی | 07 |
| 5. | د مسلمانو ښځونه مطالبه | 16 |
| 6. | ستاسو فرائض | 18 |
| 7. | ستاسو رومبی کار | 18 |
| 8. | ستاسو دوئم کار | 18 |
| 9. | ستاسو دریم کار | 19 |
| 10. | ستاسو خلورم کار | 21 |
| 11. | یوفیصله کوؤنکی سوال | 22 |
| 12. | دتحریکی اوتنظیمی ښځوسره یوڅو خبري | 24 |
| 13. | خوش فهمی | 28 |
| 14. | دضمیر آواز | 36 |
| 15. | آزمائش | 37 |
| 16. | دینی مطالعه | 39 |
| 17. | حلال رزق | 39 |
| 18. | رشته دارئی | 40 |
| 19. | دنیا پرستی | 42 |

| | | |
|---|---|---|
| .20 | غریبی تحریکی خوئندې | 43 |
| .21 | نمائشي لباس | 45 |
| .22 | دعاکوئی | 49 |
| .23 | عزت مندو زنانؤ | 50 |

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

# حرف آغاز

د دنیا خائست او رونق او رنګینی صرف یواځي د سړو په وجود باندي نه ده بلکه پدي نظام کښې د ښځو هم ښهٔ ډیر کردار شامل دي څه رنګه چې دنیا دپاره ټول سړی او ښځي محنت کوی اوددنیا کاروبار چلولو کښې یوبل سره امداد اومعاونت کئې ، نودغه رنګه بلکه ددي نه هم زیات خپله ژوند د قرآن اوسنت په سانچه کښې اچول اودعوت دین اواقامت دین محنت دهر سړی اوزنانه ذمه داری ده.

چې هر کله ددین علم وعمل د سړو او ښځو دواړو ډلو دپاره دي .

او د دین ایزده کول اوبل ته خودل اوددین دعوت دټولو ذمه داری ده نو ددي خپلې ذمه داریٔ اداکولو دپاره هر سړی اوزنانه له دخپل وس مطابق کوشش کول ضروری دي .

د اولنیٔ زماني ښځو د دین په خودلو کښي اوددین پرچار کولو کښي غټي غټي قربانیٔ ورکړی دي .

تاریخ ګواه دي چی ړومبي اسلام قبلوؤنکے شخصیت هغه هم ښځه وه ( یعني حضرت خدیجه رضی الله تعالی عنها ) اودټولو نه ړومبیٔ چي داسلام قبلولو په سزا کښې چاته شهادت ملاؤشوي وو هغه هم ښځه وه یعني دحضرت عمار رضی الله عنه مور حضرت سمیه رضی الله عنه چي د ابوجهل بدبخت په نیزه وهلو سره شهیده شوي وه.

او د اهم مشهوره واقعه ده چي د عمررضی الله عنه داسلام قبلولو باعث هم دهغوی خور فاطمه بن الخطاب ګرځیدلی ده اوداهم دسیر اود تاریخ په کتابونو کښې موجود دی چې کله دهجرت سلسله شروع

شوه نو څه رنګه چې سړو دخپل دین اوایمان دحفاظت دپاره هجرت اوکړو نودغه رنګه ښځې هم ورسره شامل وې .

بیا دغه پاکیزه ښځو د جهاد په مختلف معرکو کښې هم حصه واغسته او د دین دسربلنده کولو دپاره به ئې خپل خاوندان او بچې د جنګ میدانونو ته په خوشحالئ سره لیږل .

بلکه تاریخ ګواه دي چې بعضي ښځو خوبه خپل خاوندان دجهاد دپاره راپارول او پیغور به یې ورکولو میدان جهادته به یې لیږل .

آیا نن ښځې داسلام دعوی نه کئ؟

آیا د دوی داسلام سره نسبت اوتعلق نشته ؟

آیا دوی د نبی علیه السلام دامتی کیدلو دعوی نه کوی ؟

کۀ چرې دعوی یې وی او ضرور شته نوبیا داسلام ایزده کولو او د خورولو اوخپل فرائض پیژندلو اوپه هغی د عمل کولو دپاره اوددین د دعوت او اقامت د پاره ولي حرکت نه کوی ؟

اکثر ښځې کتلے شی چې په لباس اوکالو کښې دکافر اومشرکو ښځو پیروی کوی .

په مجلس کښي تا وئیلي ما وئیلي شروع کړی .

دآخرت ورسره معمولی هم فکر نه وی مونځ پسې مونځ پریږدی روژې پسې روژه پر یږدی ، دکالو حرص وی مګر دزکوة هیڅ خیال نۀ وی ددین د دعوت او اقامت معمولی هم فکر نه وی ، آیا دامسلمانی ده ؟

داسې خو د ټولې معاشرې داصلاح ضرورت دے ، لیکن خصوصیت سره د ښځو په اصلاح توجه ورکول ضروری دي ، ځکه د هر ماشوم اولنئ مدرسه هغه د مور غیږ ده ، که مور صحیح مسلمانه

وی نو بچی ته به هم اسلام ورښائی او داسلامی احکامو اوآدابو تعلیم به ورکوي ، ځکه دهر یو قوم د ښځو ددغه قوم په تعمیر اوتربیت کښې ښه پوره کردار وی

د مور غیږه د ماشوم د ټولونه اولنۍ درسګاه هم وی اوتربیت ګاه هم او دا داسي موثره درسګاه ده چې د دی ځائې زده کړے شوے سبق په ذهن اوزړه باندی دکانړې دکرښي نه هم زیات وی اوبه ټول عمر کښې نه هیریګی .

نو د اوجه ده چي د امت مسلمه دپاره چې څومره اهمیت د سړو دینی اصلاح ته حاصل دي نو د ښځو دینی تعلیم اوتربیت ددینه په هیڅ طریقه کوم اهمیت نه لری.

یو خو دا وجه ده چی د اسلامې احکامو خطاب څه رنګه چې سړو ته دي نو داسې ښځوته هم دي ، بلکه بعضی احکام خو داسي وی چې صرف ښځوسره تعلق ساتی .

او دوئمه وجه داده چې د ښځو تربیت بالاخر د ټول قوم د تربیت ذریعه ګرځی .

د سرکار دوعالم صلی الله علیه وسلم معمول هم دا وو چې د دوی په عمومی خطاباتو کښی به سړی اوښځي دواړه به مخاطب وو .

لیکن کله کله به رسول الله صلی الله علیه وسلم خاص طور ښځو ته خطاب کولو دپاره به دجدا نشست انعقاد کولو ، چی دښځو تربیت به خصوصی اهمیت سره اوکړي شی .

د نبی صلی الله علیه وسلم د دي سنت پیروی کولو دپاره د هر دور علماؤ او د دین مشرانو په خپل وعظ او خطاب تصنیف وتألیف کښې د ښځو د دی خصوصی اهمیت لحاظ ساتلے دے او داسی ډیر کتابونه صرف د ښځو دپاره لیکلي شوې دي .

الحمد لله په اردو ژبه کښې هم د مسلمانو ښځو د پاره د داسی کتابونو ډیره ذخیره موجود ده چې د دوی دینی ضروریات پوره کړی.

په دي رساله کښې د اسلام په تقاضو د پوهه کولو کوشش کړے شوي دي او ځائے په ځائے په موجوده حالاتو تبصره کړے شوے ده او مسلمانانو ښځوله زورنه ورکړے شوې ده چې په اخلاص اوهمدرد ئی بناء ده .

د الله جل شانه نه امید دے چي دا رساله په تیارۀ کښې د بلیدونکې ډیوې او د مسلمانانو ښځو خصوصا تحریکی او داعیانو ښځو اوخوئیندو دپاره نافع او مفیده ثابت شی .

دي رسالي ته ترتیب ورکولو دپاره دي لاندې کتابونو نه استفاده کړے شوې ده .

۱- تحریکی خواتین سے چند بے لاگ باتیں

۲- مسلم خواتین سے اسلام کے مطالبات۔

۳- تحفہ خواتین۔

# حقیقی مسلمان

نن په دنیا کښې په کروړونو داسې انسانان دي چې ځان ته مسلمان وائې ، مګر کومي دنیا ته چې مونږ د اسلام نوم ورکوؤ نو د هغې حال بلکل په شان د هغه چړیاګهر دي څه رنګه چې په هغې کښې قسما قسم ځناور مختلف قسم خبرې او آوازونه کوؤنکی موجود وي اوپه دوی کښې څه خبره هم مشترک نه وی سواء ددینه چې دوی صرف یو چړیاګهر کښې یوځاي اوسیږی .

تقریبا چې دغه شان حال دمسلمانانو ددنیا هم دے چې په دي کښې مختلف سړی راجمع دی .

په دي کښې داسي هم دی چې د الله په وجود کښې ئې شک دے ، داسي هم شته چې د هغوی په وحی او رسالت کښې شبه وی.

داسي هم دی چې دآخرت نه منکر دی او دا خبره هم نه تسلیموی چې د مړۀ کیدلو نه بعد به د الله په دربار کښې د دي زندګئ حساب هم پیش کول وی .

په دي کښی داسي هم دی چی بدئې او نیکئ کښی د هغه تمیر نه انکار کوی د کوم تعلیم چې اسلام ورکړي دي او د ځناورو په شان غافل ژوند تیرول غواړی .

هغه خلق هم پکښي شته چی د هغوی په نظر کښې داسلام خودلي شوي د زندګی طریقه صحیح نه ده او د دنیا د نورو طریقونه د خپل خواهشاتو مطابق یو طریقه ئي ایزده کړي وی .

د دی هرڅه کولو باوجود هم دوی ځان ته مسلمان وایی بلکه ځان ته مسلمان وئیلو باندي اصرار کوی او هغه تمام حقوق حاصلول

غواړی چې کوم د مسلمانانو په معاشره کښې صرف یو مسلمان ته حاصل وی .

په دې مجموعه کښې به ډیر کوم داسې خلق موندلې کیږی چې فی الواقع به په هغه معنی مسلمان وی چې په کومه معنی اسلام چاته مسلمان وائی .

## غیر شعوری مسلمان

آخر ددې حالاتو صورت ولې داسې دې ؟

ددې وجه دینه علاوه هیڅ نده چه زمونږه مسلمان دنیا زیاته په نسلی مسلمان مشتمل ده ، چې صرف په دې وجه مسلمانان دی چې د دوی پلار نیکهٔ مسلمانان وو او اتفاق سره د مسلمان په کور کښې پیدا شوې دی .

کهٔ چرې تاسو صحیح طریقې سره غور اوکړئی نو دا حقیقت به په تاسو واضح شې چې انسان ته پیدائش سره نسب ملاویدے شې ، نسل ملاویدے شي ، وطنیت ملاویدے شې ، لیکن هیڅ یو شخص ته په محض پیدائش سره اسلام نه ملاویږی .

انسان پیدائشی طور سره جاټ (د یوقوم نوم دې ) کیدلې شې ، راجپوت کیدلې شې ، هندوستانی کیدلې شې ، انگریز اوجرمن کیدلې شې ، لیکن د مور دخیټې او د پلار د نطفې نه ورته دین نه شې ملاویدے .

دین خوصرف په داسې طریقې سره حاصلیدې شی چې پخپله دې لره خوښ کړی او په خپله ارادې سره دې لره اختیار کړی .

هم دا وجه ده چې کوم خلق په مونږ کښي نسلي مسلمانان دي او صرف محض د پلار نیکهٔ د کور نه ورته د اسلام سره نسبت حاصل شوے دي نو هغوی سره خو د مسلمانانو په شان نومونه شته ، لیکن هغه صفت په دوی کښې مفقود دي ( ورک دي ) د کوم نوم چې اسلام دی، د دوی مخې ته د ژوند تیرولو هغه طریقه بلکل نشته کومه چې اسلام دوی دپاره منتخب کړې دي .

دوی په دي باندي د ځان پوهه کولو کوشش نه دي کړی ، اونه یې چرته ځان دپاره دا خوښه کړي او نه یئ پدي باندي د تلو اراده کړې حالانکه د اسلام چې کوم حقیقت دي نو هغه د نبی علیه السلام په الفاظو کښې داد ے :

ذَاقَ طَعْمَ الْإِيْمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللّٰهِ رَبًّا وَبِمُحَمَّدٍ رَّسُوْلًا وَبِالْإِسْلَامِ دِيْنًا .

یعنې د ایمان مزه هغه کس او څکله چې هغه په دي راضی شو چې الله د هغه رب د ے او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه رهنما د ے او اسلام د هغه د ژوند تیرولو نظام د ے .

د دي حدیث په نړا کښې دا خبره واضح کیږې چې کوم کس باوجود د سوچ او فکر نه اسلام یئ په رضا او رغبت سره قبول نه کړو نو هغه د اسلام او ایمان د مزې نهٔ نا آشنا د ے ۔

ګویا که دهٔ د دین مزه نه ده څکلے .

## د مسلمان کیدلو معنی

د مسلمان کیدلو معنی دا ده چې یو سړ ے په پوره شعور سره دا فیصله اوکړی چې په دنیا کښې خدائې ، پروردګارې ، آقائې او د

معبودیت ځومره دعوی کوؤنکی دی په دې ټولو کښې به دي سره صرف دیو رب العالمین بندګی کوی.

چې د کومو طاقتونو دا دعوی ده چې خلق دي د دوی د مرضۍ تابعداری اوکړی ، د دوی د احکامو اطاعت دي اوکړی اوخپل ځان دي دویته او سپاری، نو په دې ټولو کښې صرف د یو الله ذات داسې دي چې د هغهٔ وړاندې خپل سر د اطاعت دی بنده لره خکته کول دی، او صرف دغه ذات دي چې دا بنده به د هغهٔ مرضی لټوی.

بیا د مسلمان کیدلو معنی دا ده چې په دنیا کښې د ژوند تیرولو د نورو طریقو په مینځ کښې انسان دا فیصله اوکړې چې د دوی دژوند تیرولو دپاره صرف هغه یو طریقه خوښه ده کومه چې اسلام پیش کړې ده.

نورو طریقو له ترجیح ورکول خوځۀ کوے چې هغې طرف ته به رغبت اوشوق هم د دۀ په زړۀ کښې نۀ وی ، بلکه د زړۀ نه به ورته د اسلام طریقه خوښه امرغوب وی.

بیا د مسلمان کیدلو معنی دا هم ده چې په دنیا کښې د انسان د رهنمائې او رهبرئې دعوی کوؤنکې ځومره تیرشوې دي او نن هم دی نو د دي ټولو په مینځ کې انسان یو محمد صلی الله علیه وسلم لره خپل رهنما منتخب کړی او دا فیصله اوکړی چې صرف د رسول الله صلی الله علیه وسلم خودلے شوې طریقې باندي تلل دي .

دغه رنګه چې یو سړے الله خپل رب اومنی ، اسلام خپل دین اومنی او محمد صلی الله علیه وسلم خپل رهنما اومنی نوهله به هغه مسلمان کیدي شی اوچا چې په دي طریقه اسلام قبول کړو نو اوس د

هغهٔ کار دا دي چې هغه به خپل خواهشات د الله د مرضئ او د اسلام د قانون او د محمد صلی الله علیه وسلم د هدایاتو تابع کوی .

بیا دهٔ د پاره پدي کښې د هیڅ خبرو کولو موقعه باقی نه پاتي کیږي، بیا ده ته د دي وئیلو حق نه جوړیږی چې الله په دي معامله کی دا حکم ورکړے دی خو، او محمد صلی الله علیه وسلم به دي کښې دا رهنمائي کړي خو، اګر چې قرآن دي باره کښې دا حکم ورکئې خوزما رائے دي سره متفق نده او زهٔ به په خپله رائے عمل کومه .

یا د دنیا طریقه ددي خلاف ده او زهٔ به د هغې طریقی پیروی کومه کومه چې به دنیا کښې روانه ده .

دا رویه چي دچا وی نو د داسي کس متعلق پدي ځان پوهه کول پکار دی چې ده په حقیقت کښې ایمان دسره راوړي ندے .

حقیقی ایمان راوړل خو دا دی چې انسان خپله مرضی ، خپل خواهشات اوجذبات ، خپل خیالات اونظریات ټول داسلام ماتحت کړی قرآن کښې ارشاد دے :

أُدْخُلُوْا فِي السِّلْمِ كَافَّةً

اسلام کښې پوره پوره داخل شئ او هر هغه غیر اسلامی طریقه رد کړئي چې په دنیا کښې رائج او مقبول وي یا هغه چې دَ هغې طرف ته د نفس شیطان رغبت پیداکوی.

هم دغه خبره ده کومه چې نبی صلی الله علیه وسلم څه داسې بیانوی:

لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبَعًا لِمَا جِئْتُ بِهِ۔

په تاسو کښې هيڅ يو کس تر هغه وخته پوري مومن نه شي کيدئې ترڅوچې هغه خپل خواهشات دهغه هدايت تابع نه کړي کوم چې ما راوړي دي .

د دي صفا مطلب دادي چې ترڅو د انسان د نفس شيطان د الله مخې ته ځان خکته نکړی او د محمد صلی الله عليه وسلم د رهنمائي وړاندې خپل سر ټيټ نکړی نو تر هغه وخته پورې دا مسلمان نه شي کيدلې .

ترڅو چې د انسان د نفس دا دعوی قائم ده چې په زندګۍ کښې زما د خواهش اطاعت پکار دی .

نوترهغه وخته پورې ددۀ په زړه کښې ايمان اواسلام نشته دي .

ايمان او اسلام خودادي چې د انسان زړۀ دا خبره اوکړی چې بغير دڅه چون وچرانه ددين په اطاعت راضې يم .

بيا د اسلامی زندګۍ کيدلو معنی داده چې په انسان کښې د ذمه دارئی احساس وی .

دمومن زندګی هغه يو ذمه دارئې والا زندګی وی .

چې په زړه کښې ايمان موجود وی هغه د دې احساس نه کله هم نه خالی کيږی چې څه به دخپل عمل سره ، خپلو خيالاتو سره ، الله مخې ته به حاضر کيږم او جواب به ورکول وی ، اومرګ نه بعد به دا حساب ورکول وی چې ماپه دنيا کښې څه کړی دی ؟

څه مې وئيلې څه مې اوريدلې دی ؟

په کومې طريقه مې ژوند کړې دے؟

خپل قوتونه او قابليت مې په کومو مشغلو صرف کړې وو ؟

په کومو طریقو مې مال ګټلي وو؟
اوپه کومو لارو کښې مې خپل مال خرچ کړے وو ؟
اودکومو مقصدونو دپاره مې دنیا کښې سعي اوکوشش کړي وو ؟
مومن کله هم په دې خیال کښې نه مبتلا کیږی چې زه به مړشم، بس خاورې به شم ، اود دنیا نه داسې تیریدل دی چې د دنیا د افعالو او اعمالو هیڅ نتیجه به نه راؤځی .
داسې نده ، مومن پوخ یقین ساتی چې ددي ژوند نه بعد یوبل ژوند دي چې په هغې کښې د الله مخې ته حاضریدل دی اودیو یو کار، یو یو حرکت ، یو یو ذري حساب ورکول دی .
قرآن کښې دی :
وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ
(چاچې ذره برابر هم څه نیک عمل کړي وی یاذره برابر څه بدعمل ئی کړې وی د هغې بدله به ضرور ورته ملاویږی)
داڅیز نبی علیه السلام پدې الفاظو سره بیان کړې دي .
اَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ.
خبردار تاسوکښې هر یو راعی ( مشر)دی اوتاسو کښې دهر یونه به دهغهٔ د رعیت باره کښې سوال کولي شی .
رعیت نه مراد هر هغه څه دی چې د انسان په چارج ( ذمه ) کښې وی،که هغه خزه بچې وی یا نوکر اوماتحت خلق وی یاځناور اونور اسباب زندګی وی . چې په کوم ځیز باندې دیو انسان حکم چلیږی اوهر هغه څوک چې د دهٔ تابع وی هغه ددهٔ رعیت دې .
پدې معنی سره په دنیا کښې هیڅ څوک هم بي رعیت نه دی.

هر يو په څه ناڅه دائره کښې د راعی حیثیت لری .
ښځه د کور راعی ده.
سړې دښځي بچو راعی دی.
افسر د ماتحتو راعی دی.
حکمران دټولی آبادۍ راعی دي .
بهر حال هر انسان په څه ناڅه طریقې سره ضرور راعی دي .
اوڅه ناڅه د دهٔ په چارج ( ذمه دارئې ) کښې ضروروی .
ددي رعیت متعلق نبی علیه السلام انسان لره تنبیه ورکوی چې خبردار ، تهٔ د خپل رعیت ذمه دار یې ، اوخپل رب ته به جواب ورکوي چې تا په خپل رعیت اختیارات څه رنګه استعمال کړې وو .
داعقیده دمسلمان دزندګۍ نه یوذمه دارانه زندګی جوړئی .
مسلمان چرته هم داسې ژوندنه شی تیرولي چې څه غواړی هغه خوری، چې څه غواړی هغه به اچوی ، چې په کومو مشغلو کښې اوغواړی نو په هغې کښې به خپل قوتونه اوخپل وخت صرف کوی .
چرته چې دنفس خواهشات ئې بوزې نوهلته به ورپسے ځې ، دا څه تختیدونکے ځناور نه وی چې په کوم پټی کښې خوښه شی نوهلته به ورځې ، چرته چې شنه ګیا اووینی نوهلته کښې به خولهٔ وهی ، او چرته چې مخه کړې په هغه طرف به ځی .
اوپه هغې طرف به منډي وهل شروع کړی ، د مسلمان د زندګۍ صحیح مثال هغه دے چې نبی علیه السلام پدې حدیث کښې فرمائیلې دی چې :
مَثَلُ الْمُؤْمِنِ وَمَثَلُ الْإِيمَانِ كَمَثَلِ الْفَرَسِ فِي اٰخِيَتِهِ يَجُوْلُ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى آخِيَتِهِ.

د مسلمان او ایمان مثال داسې دے لکه څه رنګه چې په یو لرګی پسے تړلے شوے آس وی که هغه هر څومره چکرے اووهی او(تړپونه اووهی ) خو بهر حال دهغې دغاړې پړے هغې لره پدې مجبوره وی چې هغه یوخاص حدته رسیدلونه بعد خپل لرګی ( کوم پورې چې تړلي شوي وو) ته واپس کیږی )).

مسلمان چې هر کله د ایمان اوطاعت لرګی سره تړلے شوے دي نوکه دهغې رسۍ هر څومره اوګده ولې نه وی .

خوهغه یوخاص دائره کښې دننه ګرځیدلے شی ، د هغې دحدودو نه بهر نه شی وتلے .

مسلمان خپل ټول قوتونه او صلاحیتونه په هغه حدودو کښ دننه صرف کولی شی چې کوم الله او د هغه رسول صلی الله علیه وسلم مقرر کړی دی.

د دۀ ټول رغبتونه ، ټول تفریحات ، ټول کارونه اور ټول کاروائیانۍ به د مقرر حدودو پورې محدود وی .

د دي حدودو نه دبهر وتلو جرأت نه شي کولي .

داسلام ددې مختصر تشریح نه بعد به څۀ عرض کړم چې مونږ د دین اسلام خادمان اوکارکنان څه غواړو .

زمونږ دعوت ټولو خلقوته دادے چې دوی اسلام لره چې دغه یۍ حقیقت وو ښه طریقې سره چانړ کړی او مخې ته دي کیږدی او دا فیصله دې اوکړی چې دوی اسلام لره دخپلي زندګۍ د پاره د دین په حیثیت سره قبلوی یانه ، لکه څه رنګه چې ما اول کښې اوئیل چې اسلام یه پیدائش سره نۀ حاصلیږې .

په نسل اونسب سره نۀ ملاویږی ، پس دا ضروری ده چې دا سوال دي ستاسو وړاندې کیخودلي شی ، اوتاسو نه صفا صفا تپوس اوکړے شی چې آیا فی الواقع تاسو دې لره په رضا اورغبت سره قبلوئی یا نۀ؟
آیا تاسو ددی په لګولې شوې پابندیانو باندې راضې يئ کۀ نه ؟
آیا تاسوته دایمان په لرګی او د اطاعت پۀ رسئ باندې تړل منظور دی؟
کۀ چرې د چا دا دین نه وی خوښ او د اسلام په اصولو او حدودو کښ دننه اوسیدل ورته منظور نه وی نودۀ ته پوره اختیار دے چې دې لره پریږدی، لیکن د پریخوستلو معنی داده چې صفاصفا دې لره رد کړی .
خپل نوم دی بدل کړی ، خپل تعلق دي د مسلمانانو معاشرې سره پرې کړی ، ځان ته دې مسلمان نه وائی ،او بیا آزادئې سره چې په کومه لاره ئې خوښه وی لاړ دې شی .
د خپل نوې سوچ مطابق چې کوم نوم يئ خوښ وی هغه دي اختیار کړی او چی کومه سوسائټی ( معاشره ) يئ خوښه وې په هغې کښې دي شامل شی یا دې ځان سره خپل خیال والا خلق واخلی اویو نوې معاشره دي جوړه کړی .
بهر حال دا فریب اودا خندا اوس ختمول پکاردی چې کومه د نن صبا خلقو اختیار کړې ده چې اسلام يئ خوښ هم ندے . ددي په تابعدارئې کولو باندې راضی هم ندي ، په خیال اوعمل کښې اسلام پریخوستلی اونوری طریقې اختیار کړې دي .

مګر بیا هم په ضد دي چې مونږه مسلمانان یو او صرف په مسلمان کیدلو باندې اصرار نه کوی بلکه د اسلام علمبردار او ددی مفتیان یئ د ځان نه جوړ کړی دی .

دا لوبه ډیرې ورځې اوشوه ، داموږه نوره برقرار ساتلوته نهٔ پریږدو دغه رنګه دا منافقانه رویه هم ختمول پکار دی چې داسلام کوم څیزونه د خپل مفاد او د غرض مطابق وی نو هغه دي قبول کړے شی او چي کوم څیزونه دخواهش نفس مطابق نه وی نوهغه دې رد کړې شی .

داد (أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ)مصداق دے، چې د کومي پیغور د نبی علیه دخلي مبارکئ نه یهودوته ورکړے شوے وو چې دکتاب الهی نه خود خپلي خوښي څیزونه اخلی اوچې کوم څیزونه موخوښ نه وی نوهغه پریږدئ .

دا د نفس پرستئ اودخواهش دبندګئ جعلی سِکه نور دایمان په نوم باندې نه شی چلیدلی .

د یو شریف انسان دپاره هم دا د جعل سازئ او د فریب دا کار عزت والا ندي چې دخپل مطلب دپاره خودي هغه مسلمان وی او د اسلام په نوم دي خپل حقوق غواړی خولیکن د اسلام پیروی کولو دپاره هغه بیامسلمان نه وی .

مونږه دهر کس مخې ته داسوال وړاندی کوؤ اوددي مختصر جواب غواړو چې اسلام تاته دخپل طریق زندګئ په حیثیت سره خوښ دے کۀ نه ؟

که خوښ مونهٔ وی مهربانئ اوکړئ اوصفا انکار اوکړئی اودملت د دائري نه بهر اوزئی ، اوکه چرې خوښ مو وی او په حقیقت کښې مسلمان کیدل غواړے نوپه ریشتینی زړهٔ سره دا قبول که ، داسلام یوجزء یا یوڅو اجزاء نه بلکه پوره اسلام واخله ، صحیح طریقي سره د اطاعت کولو رویه اختیار کړه او اسلام لره خپل دین منلونه بعد د آزاد ئې دعوی مهٔ کوه .

د مسلمان کیدلونه بعد چاته ددي خبرې د وئیلو حق هم نه پاتې کیږی چې مونږ به د خپل عقل او خپلې خوښې مطابق چې کومي طریقې غواړو هغه به اختیارؤ .

اسلام دا آزادی ستاحق نه ګنړی .

## د مسلمانو ښځونه مطالبه

دا خبره مونږ صرف سړوته نه کوؤ . بلکه ښځوته هم مونږه دغه وئیل غواړو مونږه ښځوته درخواست کوؤ چې خپل شخصیت دسړو په شخصیتونو کښې مهٔ ورک کوئې خپل دین سړوته مهٔ حواله کوئې .

دا د سړو نهٔ دی د دوی خپل یو مستقل شخصیت دي ښځي به هم د سړو په شان د الله په دربار کښې پیش کیږی او د خپل اعمالو او افعالو حساب به پخپله ورکوی قیامت په ورځ به هره ښځه هم د خپل قبر نه پورته کیږی .

د خپل پلا یا خاوند یاد رور د قبر نه به نهٔ پورته کیږی.

د حساب کتاب ورکولو په وخت کښې به په دې نه خلاصیږې چې زما د ورځې تپوس زما د سړو نه اوکئې ، د خپلې زندګئ د طریقې به پخپله ذمه داره وي ، او د الله مخې ته به د دې خبرې جواب

ورکول وی چې ته په کومه طریقه روانه وې ، آیا په سوچ سره روانه وے۔

لهذا مونږ د ښځو سوال سږوته مخې ته نهٔ بلکه پخپله د ښځو مخې ته پیش کوؤ او ورته دا وایو چې د خپلې زندګۍ د لارے فیصله تاسو پخپله اوکړئ بغیر ددي امر د لحاظ کولو نه چې ستاسو د سږو څه فیصله ده .

اسلام تاسوته ددین په حیثیت سره خوښ دے کهٔ نه ؟

ددي اصول ، ددي حدود ، ددی لګولي شوې پابندئی ددی اچولي شوي ذمه دارئی .

غرض داچې ټول څیزونه یئ اوګورئی او دا فیصله اوکړئې چې هغه تاسوته قبول دې که نه ؟

که چرې دي ټول څیزونو سره درته اسلام قبول وی نو د ریشتینی زړه نه د دي تابعداری اوکړئی ، نیمګړي نهٔ بلکه ټول اسلام لره خپل دین جوړ کړئې او بیا د قصده ددي نه انحراف مکوئی اوکهٔ چرې قبول نهٔ وی درته نو شرافت پدي کښ دي چې صفا صفا او اعلانیه طریقي سره داپریږدئ او ددی په نوم ناجائزه فائدې اغستلو کوشش مکوئې .

د ډیرې مودې نه مونږه دا خبره کوؤ ، که چرې تاسو ته زمونږ د لټریچر د رسونو ، بیاناتو او مجالسو وغیره د اوریدلو موقع ملاؤشوې وی او تاسو د دي نه خبریئ نو تاسو ته به هم دا خبره معلوم وی چې مونږه همیشه خپلو ملګرو او رفقاؤ ته هم دا وئیلې دی چې تاسو دخپل کور په ښځو ، میاندو ، خوئیندو، کورواله ، او لوریانو باندې داسلام

تبلیغ ضرور کوئی او دوی د دین ، قرآن او سنت تعلیمات نه ضرور باخبر کړئې .

مګر الله د پاره دوی د خپل قوامیت ( یعني د سړو په ښځو یو مرتبه ده ) په زور خپل خواهش طرف ته مهٔ راکاږئ .

## ستاسو فرائض:

دغه رنګه چې کومې زنانه په سوچ سره پخپله اسلام لره خپل دین اوګرځوی نو هغوی ته مونږ وئیل غواړو چې د دوی دکولو کارونه څه دی.

## ستاسو ړومبي کار:

هغه دا دي چې خپله زندګی د اسلام په سانچه کښې واچوئی او د خپل ځان نه دجاهلیت یو یو څیز په چانړ سره لري کړئی ، په ځان کښې د دی خبرې تمیز پیداکړئی چې کوم څیزونه د اسلام دی اوکوم څیزونه د جاهلیت دي بیا د خپلي زندګۍ جائزه واخلئ او د ځان محاسبه اوکړئي چې د جاهلیت څه اثر خوپاتي ندي .

که داسې څه اثرات هم وی نوهغې نه خپل ژوند پاک کړئ اوخپل خیالات ، خپل معاشرت ، خپل عقائد ، خپل اخلاق او خپل ټول طرز عمل د دین تابع کړئی .

## ستاسو دوئم کار:

هغه دا دي چې دکور فضا صحیح کړئې . پدي فضا کښې چې کوم غلط قسمه عقائد او رسمونه راروان دی هغه بهر اوباسئ او د نوې زمانئ د جاهلیت چې کوم اثرات پدي انګریزی دور کښ زمونږ په کورونو کښ

داخل شوې هغه هم دکور نه اوباسۍ پدې وخت کښ زمونږ په کورونو کښ دپخوانۍ زمانې جاهلیت اودنوې زمانې دجاهلیت یوعجیبه ګډون رائج دی. یوطرف ته هغه د نوې زمانې سوچ دي چې هغي زمونږه مسلمانانو ښځو لره دفرنګیانو سوچ طرف ته روانې کړې دې اوبل طر ف ته دي نوې زمانې سوچ سره دپخوانۍ زمانۍ جاهلیت والا خیالات شرکیه عقیدې اوغیر اسلامی رسمونه زمونږ په معاشره کښې براقرار دی .

اوس چې کومو ښځوته د خپل ایمانی فرائض احساس اوشی نود هغوی کار دا دي چې پخوانی د جاهلیت رسمونه اوتصورات هم یو یو دکورنه اوباسۍ او د نوې زمانې دجاهلیت هغه سوچ ( کارونه ) هم ختم کړۍ چې کوم د فرنګی اود انکریزی تهذیب په پټو سترګو سره د تقلید کولو دوجې نه زمونږ کورونو کښ راننوتې دی خپل کورونه د قرآن اوسنت په تعلیماتُ سره منور کړئی .

## ستاسودریم کار:

هغه دا دي چې خپلو بچوته په اسلامی طریقې سره تربیت ورکړئی .

زمونږه نسل پدي لحاظ سره ډیر بد قسمت دې چې په کور دننه د دوی په غوږونو کښې د قرآن پاک آواز نه پریوځی او نه په خپلو سترګو چرته دکور خلق په مونځ کولو وینی مونږ پدې لحاظ سره خوش قسمت وو چې مونږ به په خپل کور کښې د قرآن آواز اوریدلو اوخپل مشران به مو په مونځ کولو لیدل .

بهر حال زمونږ نه چار چاپیره څه نه څۀ د دین آثار موجود وو لیکن د موجوده نسل دا بدقسمتی انتها ته رسیدلې ده چې دکورنو په کومه فضاء

کښې دوی پرورش اخلی نوپه هغې کښې نه چرته د قرآن آواز راځی اونه چرته د مونځ کولو منظر په نظر راځی .

که چرې زمونږ دکورونو دغه حال وو او زمونږه نسل دغه رنګه غلط تربيت اغستلو نوچې کله دوی دَ ژوند عملی ميدان ته لاړشی نوشايد چې دغه وخت داسلام نوم هم باقی پاتې نه شی .

اوس به تاسو دا صورت حال ختموئې او پدې فکر کښې لګيا شئ چې په کورنئ زندګئ کښې ، روزانه کيناستل پاسيدلو کښې او د ژوند په نورو معمولاتو کښې اسلام ښکاره شی .

او زمونږ د بچو وړاندې يو ګرځيدونکي اسلام په نظر راشی چې بچی د اوينی ، د دي خوند اوڅکی او د دينه اثر قبول کړی .

د دوی په غوږونو کښې باربار د قرآن آواز پريوځی ، د ورځې په کور د پنځه وخته مونځ کولو منظر اوګوری ، بيا هغوی د خپل فطرت لاندې د خپلو مشرانو تقليد اوکړی ، او چې هغوی په مونځ کولو اوينی نو د هغوی نقل به کوی .

د توحيد پيغام واوری د عبادت مدعی (مقصد) باندې پوهه شی، د اسلام نقشه د دوی په زوړونو قائم شی ، د دوی عادتونه صحيح شی ، په دوی کښې اسلامی ذوق پيداشی .

د نوی نسل دپاره مونږ.له دا هر څه پکار دی . پس هغه ټولې زنانه چې اسلام قبول کړی هغوی له پکار دی چې د داسې ضرورت پوره کولو دپاره خپلې غيرې او خپل کورونه مسلمان کړی چې پدې کښې يو مسلمان نسل لوې شی .

## ستاسو څلورم کار:

هغه دا دي چې د خپل کور په سړو باندې اثر واچوئې او خپل خاوندان ، پلاران ، رونړه او ځامن داسلامې زندګئ طرف ته راؤبلئ .

پته نه لګی چې ښځوته دا غلط فهمی چرته نه شوې ده چې دوی سړو لره نه شی متاثره کولئ، حالانکه خبره دا ده چې ښځې په سړو باندې ډير زيات اثرات اچولئ شی .

کۀ چرې يو مسلمانه جينئ د اوائی چې ما ته د محمدصلی الله عليه وسلم او د ابوبکر شکل مبارک خوښ دی او چرچل او ټرمين شکل مې ندې خوښ ، نو تاسو به اوګورئې چې څه رنګه د مسلمان ځوانانو شکلونه به په بدليدلو شروع شی .

که چرې مسلمانه زنانه اوائی چې زما د تورو ((صاحبانو خلقو )) طرز زندګی خوښه نده بلکه اسلامی زندګی خوښه ده چې په هغې کښې مونځ وی، روژه وی ، پرهيزګاری او حسن اخلاق وی ، د الله يره او اسلامی آداب او تهذيب لحاظ وی نو ستاسو د سترګو وړاندې به د سړو زندګئ بدليدل شروع شی .

کۀ چرې مسلمانه ښځه (کوروالا ) صفا صفا اوائی چې زما د حرامو په ګټه جوړکړی شوې ډرائنګ روم خوښ ندی ، د رشوت په پيسو باندې د عيش عشرت زندګی تيرول منظور ندی بلکه هغه د حلالو په لګه ګټه باندې او اوچه سپوره روټئ خوړلو اوپه يو خيمه کښې اوسيدل ورته خوښ دې ، نو د حرام خورئې به ډير اسباب ختم شی او د ډيرو رائج شوې خرابيانو ازاله به اوشی .

کۀ په دې طریقه باندې هغه ټولې خویندې چې هغوی اسلام لره خپل دین تسلیم کړی.

د اصلاح احوال مهم شروع کړی نو هغوی خپلو خپلوانو، د خپل خاندان خلقو او خپل تعلق لرونکی کورنو لره د ډیرو خرابیانو نه هم بچ کولی شی او دوی د نوی اوپخوانی جهالتونو نه هم پاکولئ شی.

په تاسو فرض دی چې تاسو په نرمه اوخوږې طریقې سره د خپلو رشته دارو او ملاویدونکو خلقو وړاندې د جاهلیت په طریقو تنقید اوکړئې، د اسلام په احکامو ئې پوهه کړئې د اسلام د حدودونه ئې خبر کړئې او پخپله هم د اسلامی حدودو پابندی کوئی او خپله صحیح نمونه د هغوی وړاندې پیش کړئې که چری داسې کار اوکړي شی نو زمونږه ټوله معاشره به صحیح شی.

**یوفیصله کوؤنکی سوال:**

که چرې تاسو اسلام فی الواقع خپل ځان دپاره خوښ کړئ نو ستاسو مخې ته به دا سوال د فیصلئ کولو دپاره اودریږی چې آیا تاسو د جاهلیت په تابعدارئ او د اسلام نه بغاوت کولو کښې د غلط کار کوؤنکو سره په ملګرتیا کولو کښې تیار ئي که نا؟

کۀ چري تاسو په ریشتیا اسلام خوښ کړې وی نو تاسو به ددی سوال جواب لازما په نفی سره ورکوئ ستاسو دپاره به هیڅ کله دا مناسب نه وی چې د نورو دنیا جوړولو دپاره تاسو خپل عاقبت (انجام) خراب کړئی.

د نبی علیه السلام ارشاد دې چې:

اِنَّ شَرَّ النَّاسِ مَنْزِلَةً يَّوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدًا ذَهَبَ اٰخِرَتَهُ لِدُنْيَا غَيْرِهِ.

قیامت په ورځ بدتر حال به د هغه کس وی چې هغه د نورو دَ دنیا جوړولو په خاطر خپل عاقبت (آخرت)خراب کړو .

لهذا تاسو د سړو دنیا جوړولو په خاطر خپل عاقبت خرابولو باندې هیڅ کله مۀ آماده کیږئی.

مسلمانې ښځې کیدلو په حیثیت سره تاسو په خپل خاوند ، پلار ، رور ځوی هر یو باندې واضح کړئې چې مونږه د اسلام په اتباع کښې ستاسو ملګرتیا کولې شو لیکن کۀ چرې تاسو ته د اسلام د حدودو پابندی منظور نۀ ده نو ته پوهه شه اوستا کار ، مونږ ستا ملګرتیا نه شو کولې ، ستا د دنیا دپاره مونږ خپل آخرت برباد کولو ته تیار نه یو .

بل طرف ته چې د کومو ښځو خاوندان ، پلاران ، رونړه او ځامن د الله جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروی کوؤنکی وی ، نو د هغوی کار دا دې چې د دوی سره دې د دینداریځ ، دین او تحریک په کار کښ پوره تعاون کوئې او په تکلیفونو کښې ورسره ملګرتیا کویځ .

ظاهره خبره ده چې کوم سړي د اسلام په حدودو کښ دننه د اوسیدلو فیصله اوکړی نو هغه د دولت ګټلو کښ هر قسم مال ته لاس نه شی اچولي .

هغه حرام خوری نه شی کولي هغه په حلال طریقو سره په لږه شان کړي شوي ګټه کښي د عیاشیځ سامان نه شی مهیا کولي .

پس مسلمانې ښځې لره د حلالو په لګه باندې قناعت کول پکار دی .

په اسلام تلونکی پلارانو ، خاونداو ، رونړو ، او ځامنو باندې دباؤ ندی اچول پکار چې هغوی ستاسو دپاره د عیش اوعشرت او دخوند اومزې سامان مهیا کړی .

دغه رنګه د دین حق په اطاعت او قائم کولو په کوشش کښې سرې د ډیر تکلیفونو سره مخامخ کیږی او د مسلمانو ښځو فرض دادی چې په دې تکالیفو کښې د خپل حق پرستو سړو ریشتینی ملګری ثابت شی .

## دتحریکی اوتنظیمی ښځوسره یوڅو خبرې:

تاسو ته خپل دا پوزیشن (مرتبه) خپلي مخې ته د کیخودلو ضرورت وو او نن هم شته چې الله تاسو ته یو اسلامې تحریک سره د تعلق په نتیجه کښې چې کوم اوچت مقام درکړې دي نو د هغې په هره لمحه کښې صرف په ژبه نهٔ بلکه عملا هم شکر اداکولې او د دین د اقامت په کار کښې به موځان لګولې وی .

لیکن چې ستاسو د ژوند او د هغې د مشغولتیا جائزه واغستلې شې نو دا افسوسناک صورتحال مخې ته راځې چې تاسولره د دین کار سره څومره محبت اوزړهٔ لګول پکار وو نو په هغې کښې ډیر کمې دې که چرې دا خبره اوکړی شې نو دا خبره به بېځایه نه وی چې کله کله په ظاهره کومه دلچسپې ستاسو د دین کار سره په نظر راځی نو هغه ستاسو په زړهٔ کښې پیدا شوې نه وی بلکه د خپل کور د سړو د زبردستئ د وجې نه وی .

او د دې په خلاف د دنیا او د هغې د ساز وسامان حاصلولو دومره فکر او سوچ په نظر راځی چې تاسو دینی او تحریکې ښځه کمه او دنیا داره ډیره ښکاریږ .

په دې صورتحال سره د دین کار ناصرف سوړ پاتې شو اولګیا دې د دی په لار کښې مختلف مشکلات پیداکیږې الا ماشاء الله .

یوڅو تحریکی او تنظیمی زنانه زمونږ دپاره قابل د رشک او د نمونې قابل ضرور دی .

ستاسو له طرفه د دین په کار کښې سستی او کاهلی او غفلت صرف دا باعث تشویش نه دي بلکه ډیر وخت نه دا خبرې هم اورو چې کله ستاسو د کور تحریکې سړې ستاسو نه د دینې لټریچر د مطالعې کولو ، په درسونو او اجتماعاتو کښې د شریک کیدلو ، د دی پیغام په عام کولو کښې خپل علم ، خپل صلاحیت ، خپل وخت اوخپل مال لګولو او په خپلو خوئیندو کښ د دعوت د دین کار کولو طرف ته توجه اوکړی .

نوپه تاسو کښې بعضې خوش نصیبه زنانه لبیک وائې او د دین کار دپاره تیارې شې .

لیکن دیر تعداد د داسې زنانوؤ دې چې دین یا اسلامی تحریک سره زبانی تعلق ساتلو باندې بل ته په وئیلو نه ستړې کیږې لیکن چې کله عملا دکار کولو موقع راشی نو په مختلفو حیلو اوبهانو سره ځان د دې کار نه پټوی او د خپلو تحریکی سړو په دهوکه کولو کښې سوچونه کئ .

کله د بیمارئې بهانه جوړه کړې ، کله ورته په عین وخت کښې رشته دا را یادشی ، کله فوراً د شاپنګ پروګرام پکښې راشی ، کله په تقریباتو کښې شرکت لازمی شی .

کله د میلمنو د ملمستیا مصروفیات راشی ، کله دټی وی یو پروګرام د خپی زنځیر جوړ شی .

حالانکه که د دې ټولو کارونو په انصاف سره جائزه واغستلي شي نونور خلق خوشه کوي چې تاسو به هم پخپله خولهٔ اوائې چې بعضې کارونه خو پریخودلي هم شو ،او بعضي کارونه روستو هم کیدلي شو .

میلمانهٔ راغلل نو هغوی هم درس او دینی اجتماع اوپروګرام کښ شریک کیدلی شو .

شاپنګ بل وخت کښي هم کیدلی شو .

دټی وی په پروګرام لعنت هم وئیلي کیدي شو .

دغه رنګه بعض زنانه دکور کارونه دومره ډیر پیش کړی ګویا که دسحر پاسیدلو نه واخله تر د اودهٔ کیدو پوري ورته په اطمینان سره د سر ګرولو موقع هم نه ملاویږی .

او دا مصروفیت سره د دین ، درس او تعلیم دکار نه د بچ کیدلو ذریعه اوګرځوی .

حالانکه که د داسې زنانو د ټولي ورځې دکارونو جائزه واغستلې شی نو اندازه به اوشی چې دا په خوراک څکاک کښې ، په دمه کولو کښې ، کوروالو سره په خبرو کولو کښې ګاونډ کښې ملګرو زنانو سره په ګپ شپ لګولو کښې کورته راغلې میلمنو سره په خبرو کولو کښې چې څومره وخت خرچ کړ او کومه توجه ورکړ نوکه دغه وخت چرې

د دین او د تحریکی کار د فکر سره منظم کړي شی او نظام الاوقات جوړ کړی شی نو دومره وخت بچ کولي شی چې په هغې کښې بهتر څه مطالعه کیدلۍ شو .

په درس او اجتماع کښې شرکت کیدلي شو او خپلو خوئیندو او ملګرو ته د دین یو خبرې هم خودلي کیدې شوې .

اصل خبره دا ده که تاسو او غواړئې نو د خپل ټولو مصروفیاتو نه دعوت دین او اقامت دین دپاره وخت ویستلي شئ او دی کار ته اولنۍ درجه هم ملاویدی شې .

اوکه چرې تاسونه غواړئ نو د یو منټ وخت هم نه ویستل کیږی او نۀ ستاسو په زړۀ کښې درد راځی.

دغه رنګه دینی اوتحریکی کار ته ستاسو سره آخری درجه خوځه کوی چې د سره ورته څه درجه هم نه شی ملاویدې .

حقیقت دا دی چې تاسو سره د دې ډیر کوم احساس دي چې تاسو دکوم کور ښځه یئ.

ستاسو په اوګو دڅومره درانې ذمه دراۍ بوجهـ دې .

تاسولره څه کول دي اوتاسو داڅه کوئې .

د دي احساس دنۀ کیدلو دوجې نه الله چې تاسو په کوم اوچت مقام اودرولي وئې نو د هغې مقام نه لاندې راروان ئي غورزیګئ او خپل ځان سره د خپل کور د دینی او تحریکی سرو دپاره هم ډیر مشکلات پیداکوئې .

**خوش فهمی:**

زه سوچ کومه چې په تاسو الله تعالی دومره غټ احسان کړې دي چې تاسو د یو دینی تحریکی سوچ لرونکو کورنۍ سره تعلق ساتئ او د خپل سړو په سمه لار کیدلو د وجې نه په اطمنان او سکون سره ژوند تیروئ لیکن ستاسو په زړۀ کښې د الله د دین دپاره درد ولې نه پیدا کیږې .

زما په خیال ددی یو څو وجې دی .

**اولنۍ وجه:**

ستاسو په زړۀ او دماغو کښې دا خیال پریوتے دي چې ستاسو د کور سړی په بدوکارونو اخته وو یا دینداره نه وو نو هغوی لره سمیدل پکار وو .

او زه خو د مخکښې نه سمه یم مالره د نورو سمیدلو سوال نه پیدا کیږی .

دا یو داسې خوش فهمې ستاسو په زړۀ او دماغو خوره شوې ده چې دې تاسو د دین کار کولو نه بند کړې یئ .

حالانکه حقیقت دا دي که سړې په یو حیثیت سره خراب دې نو ستاسو حالت هم په بل حیثیت سره څه لګ خراب نه دې مثلا سړې چې په کومو بدوکارونو کښې آخته وو .

نو تاسو په دغه بدو کارونو کښې خوآخته نه یئ لیکن د دین چې کوم واضح تصور د یو مسلمان دپاره ضروری دي نو دغې نه ستاسو ذهن نۀ صرف خالی دي بلکه او هام خرافات ، د پلار نیکه غلط

رسمونه او رواجونه او د مسلمانانو د خرابې معاشرې عام ژوند ستاسو په نزد د دين نه څه کم اهميت نه لري .

ستاسو اوسيدل ، خبرې اترې کول اغستل ورکول يو بل سره سلوک کول ، د يو بل حقوق ادا کول ، رغبتونه او خواهشات د حلال او حرام تميز ، د دنيا والو خوشحالول ، خاندان کښې د سر اوچت ساتلو او د زړه ارمانونه پوره کولو کښې د الله تعالى دصفا صفا احکامو خلاف کولو کښ نه شرم محسوسوئې اونه دالله يره شته اونه په آخرت کښې دراګيريدلو احساس شته .

خپل خپلوانو ، ملګرو اوګاونډيانو سره خبرې کولو وخت کښ شايد که ددي لحاظ وي چې زما دژبي نه د چا غيبت اونشی ، په چا الزام اونۀ لګومه ، په چا تهمت اونۀ لګی په تاويلو اوماويلو سره دچا په زړونو کښې او د نورو په کورونو کښې فساد جوړنه شی .

بلکه د ژبې دا بے ځايه استعمال دمحفل رنګ ، وخت تيرولو او د محفل دخندولو دپاره يوتفريح ګڼړی .

دغه رنګه نوري هم ډيري خرابۍ دي چې هغه تاسو خرابۍ نه ګڼړۍ اونۀ د دين خلاف حالانکه د دوی يو يو خرابی داسې ده چې هغې سره دين او ايمان په خطره کښې پريوځی اوالله سخت په غضب کيږی .

د دي خرابيانو په موجودتيا کښې اوپه تاسو کښې دی د زياتيدلو باوجود هم تاسوپه دې خوش فمۍ کښ يۍ چې زه خوسمه يم او زما په مسلمانۍ کښ دې بدو کارونو سره څه فرق نه پريوځی او زمونږ سرو لره سميدل ضروری دی .

**دويمه وجه:**

تاسو د قرآن وحديث او د نور ديني لټريچر مطالعه کول ضروري نه ګڼرئې بلکه يوڅو رسالي وئيل اخوا ديخوانه څه ددين خبرې اوريدل اوچرته يوځل نيم درس قرآن او ديني پروګرام کښ شريکيدل کافي ګڼرئې چې ددې وجې نه په تاسو کښ ددين حاصلول او د دين دکار کولو جذبه نه پيداکيږي.

**دريمه وجه:**

دکور سړي چې ترڅو خراب وو نو تاسو به د هغوی په سمه لار د راتلو دعاګانې کولې ليکن هغه چې سم شو او تاسو ته د دين خبري کئ نو تاسو د هغوې خبرې په خندا اړوئې او تاسو داګنړئې چې پرون خراب سړې وو او نن سم شو نو دا به څه ددين خبرې اوکې.

آيادډي خبرې قبلولي شي ؟

تاسودا سړې لګ ډير نيک ضرور ګنړئې ليکن دومره نه چې هغه د دين خبرې کوؤنکې وګرځی او تاسو لره د دي خبرې منل ضروري شي.

**څلورمه وجه:**

ستاسو په زړهٔ او دماغو کښ دنيا او د دې رنړاګانې داسې ننوتې وی چې د دنيا پرستو ، د الله نه دباغيانو او د خرابو انسانو دزندګئ چمک اورنړاګانې چې اوګورئې نو په خولهٔ کئې مو ورته اوبه راشې او ستاسو هم زړهٔ غواړی چې کاش ماته هم داسې رنړاګانو والا دنيا ملاؤ شي.

دا خواهش او امید په زړۀ او دماغو داسې خورشې که تاسو درس قرآن او حدیث محفل کښې هم ناست یئ یا د چا بیان اورئې یایو کتاب ګورئې نو ستاسو ذهن دا خبرې زړۀ ته د کوزولو په ځائی دچا په کور ، فرنیچر ، کالی ، جامو ، ګلدستو ، بینک ، بیلنس ، آمدنی او ساز وسامان وغیره کښې مصروف وی .

ظاهره خبره ده چې د سوچ دا حال وی نو دینی اوتحریکی خبره به څنګه زړۀ او دماغو ته کوزه شی او دعوت دین او اقامت دین دکار دپاره به زړۀ کښې اور څنګه اولګې ، دلته خو د دنیا او د هغې د سازو سامان اور لګیدلی دي .

**پنځمه وجه**:

ستاسو تعلق اوملګرتیا دینداره اوتحریکی جماعتی ښځو سره کمه او دنیا دارو ښځو سره زیاته ده.

هر وخت د دنیا اودهغې درنګینو خبرې چې کیږې نوزړۀ کښ دننه به دالله یره ، دالله محبت ،د آخرت فکر او د دین دبی مزي کار جذبه به څه رنګه پیداشی.

دادی هغه یوڅو وجوهات چې ددي د وجې نه ستاسو د دینی جماعت او اسلامی تحریک سره مضبوط تعلق پیدا نه شو که چرې تاسو غور اوکړئې اوخپله پوره جائزه واخلئ نو تاسو ته به اندازه اوشی چې یو اسلامی تحریک ستاسو څه رنګه تعلق پکار وی نو د هغې دنه پیدا کیدلو دوجې په دمه دمه ډیرې خرابئ دننه پیدا کیږی چې دیو تحریکی کورنئ دپاره ډیری نقصانی وی .

مثلا : ستاسو دکور سړی اول که هر څنګه وو لیکن دینداره د جوړیدلو او د تحریک نه دمتأثر کیدلو نه بعد د دوی په ژوندکښې که داتبدیلۍ راغلې ده چې اوس حلالو لره حلال ګڼړی اوحرامو لره حرام ګڼړی که د دوی په آمدنۍ کښې که چرې دحرام اوناجائز اودمشتبه څیز شک هم وو نوهغۍ لره یې پر یخوستو اوصرف په حلال اوجائز ګټه یۍ اکتفا اوکړه .

ظاهره خبره ده چې اول دحلال اوحرام دتمیز کولو نه بغیر چې کومه آمدنی راتله نوپه هغې سره تاسو ښه دشان وشوکت ژوند تیرولو خو لیکن کله نه چې صرف حلال آمدنی ستاسو کورته راتلل شروع شوې دی نو د هغې وخت نه ستاسو شان وشوکت اوبې ځاپه اخراجاتو کښې کمزوری راغلې ده .

ددې کمی په برداشت کولو اوصرف په حلاله آمدنۍ باندې راضی کیدلو ته تهٔ تیاره نه یې اودخپل ژوند طور طریقو بدلولوته تهٔ تیاره نه یې اودخپل کور دسړو نه مطالبه کوئې چې دکور اول کښې څنګه اخراجات وو هغه پوره کوئې هغې کښې کمې مهٔ کوئې .

چې هغوی دحلال امدنۍ حساب پیش کوی نوتاسو غصه کیږئې او هغوی ته د دیندارئې ، تحریکی فکر اوپه آخرت کښې دجواب ورکولو احساس باندې ورته ښه خبرې کوئې او پیغور ورکوئې .

د نورو مثالونه ورکوۍ او هغوی خفه کوۍ او د هغوی د دین د خوښ والی پورې خندا کوئې او د هغوی وړاندې ددنیادارو مثالونه پیش کوئې اوپه غیرت کښې د راوستو کوشش کوئې، د دوی په خلاف ماشومان راپاروئې .

په خپل خاندان کښ د دوی د تحریکی زندګۍ پوری مسخرې کوئې تر دي حده پورې چې ددوی په هره خبره باندې دخپل غوږونو، سترګو او د زړۀ دروازې بندې کړئې.

چې ستاسو په کور کښ تحریکی او دیندارانه ماحول نه پیداکیږی نوکۀ تاسو غواړئې اوکۀ نه غواړئې نولازما ستاسو په کور کښې به ضرور دنیاوی ماحول پیداکیږی .

هم ددې نتیجه داوی چې تاسو دخپل ځوی لور وادۀ په داسې ځاینو کښې دکولو فکر کوئې چرته چې لګي غوندی پیسے اودنیاوی پرقاؤ وی داسې کولو په وخت کښ ستاسو داخیال نه راځی چې کوم کورته ستا لور روانه ده یادکوم کور لور ستاکورته راروانه ده نو د دغه کور د تحریک او دین سره څومره تعلق دي کوم هلک یاجینۍ چې ستا کور ته راروان دی نو د هغوی پخپله تحریکی سوچ په حوالې سره څه حال دي .

ددوی په کورونو کښې تر کوم حده پورې ددوی په آمدنۍ کښ د حلالو اوحرامو تمیز دي ، ددي سره دتعلقاتو جوړولو په نتیجه کښ دین اوتحریک باندې به څه اثرات پریوځې خلق به دتحریکی افرادو باره کښ څه رائے به قائموی او د تحریکی کورنۍ لونړو اوځامنو باندې به ددې څه اثرات پریوځی .

په دې تمام خبرو باندې ځکه سترګې پټې کړي شی چې یو ښوروپۍ ورکونکې یا ډک لاس آمدنی ورکونکي سخرګنۍ ملاؤ شی اوچې د داسي سخرګنۍ دوجې په معاشره کښې ستاسو سترګې اوچتې وی اوستاسو اولاد ددنیا عیش اوکړی .

په دې سلسله کښې که ستاسو دکور تحریکی سړو معمولی هم خبره اوکړه نوپه هغې پسے به داسې ورپسے شئ چې ستاسو خبرې منلونه بغیر ورسره بله څه لاره نه وی .

که چرې خوش قسمتئ سره یوتحریکی جینئ دې اینګور شی کورته راشی یایوتحریکی فکر والا هلک زوم شی نودالله شکر اداکول اوپه دوی کښې نور هم تحریکی فکر اوشعور اویو تحریک سره مزید تعلق پیداکول اوپه تحریکی کار باندې دلګولو په ځائی په اینګور د کور د کارونو دومره بوجهه واچولي شی چې د تحریکی کار باره کښې دسوچ کولو موقع هم نه ملاویږی .

دغه رنګه زوم ته دتحریکی کار باندې مزید ترغیب ورکولو په ځائې ددنیا پرستو ځوانانو مثالونه ورکئ اودنیا پرستئ طرف ته یي مائل کئ چې ستاسو لور دنیا کښې خوشحاله وی ، اګر که آخرت یئ برباد شی . دین سره محبت اواسلامی تحریک اوتنظیم سره دکلک تعلق نۀ کیدلو دوجې نه تاسو دخپل بچو تعلیم او تربیت هم دنیا دارنه طرز باندې کوئې ددي ماشومانو وړاندې دمستقبل داسې خائسته منصوبې پیش کئ چې ددنیا پرستو خلقو دبچو هم ورته خوله کښې اوبه راځی .

اول خو داسې ماشومانو ته د تحریکی لټریچر لوستلو فرصت نه ملاویږی اونه یئ په درسونو اواجتماعاتو وغیره کښې دشریک کیدلو څه شوق وی .

که چرې پلار دینی او تحریکی کار کن وی نو د هغې په زور سره بچې دینی اوتحریکی لټریچر لوستلو باندې او درسونو اواجتماعاتو

وغیره ته تللو باندې تیارشی نوتاسو يئ هغه حدنه مخکښې نه پریږدئ کوم ځائې کښ چې ستاسوجوړه کړي شوی د مستقبل په هغه خائسته خاکه باندې فرق پریونهٔ ځې .

اوچې کله بچې ددې حدنه مخکښې وړاندې کیږی نوهغوی شاته راښکلو دپاره هر تدبیر کولو ته تیاریږی.

اګر که ددې په نتیجه کښې خاوند سره هم خبرې تیزې شې تاسو په ژبې سره خوشه نه وائې لیکن په دې طرز عمل سره ستاسو په زړه کښ پټ غل معلومیږی چې ستاسو دکور کومو سړو دتحریک سره ځان پیوسته کړي دي نو دا تاسو دنیا خرابیدل ګڼړئ اوخپل بچې په دې دلدل کښې دګیریدلو نه بچ کوئې .

هم ددغې مزاج نتیجه داده چې تحریک اوجماعت ته خودبهر نه افراد ملاویږی لیکن دتحریکی کورنو بچی دباطل لاس اوخپې جوړې شی .

دینی او تحریکی بنیاد باندې ستاسو سیرت نه جوړیدلو دوجې نه ستاسو عادتونه ، خواهشات ، معمولات ، اوتعلقات دهغه خلقو سره ډیر نه ډیر وی چې کوم دنیا پرست وی .

دهغې ثبوت دادې که یو محفل کښې ستا غریبې تحریکی خوئیندې هم موجود وی اومالداره ملګری هم موجود وی نوتحریکی خوئیندو باندې به صرف سلام اوکړی اوتیرې به شئ اومالدارو ملګرو سره به ترخ کښ کینئ .

نودینه اندازه کیږی چې ستاسو په سیرت دینی اوتحریکی رنګ ځومره دي او د دنیا رنګ ځومره غالبه دي .

دادی هغه خرابیانې چې د هغې اعتراض که تاسو په خپلې ژبي سره کوئې اوکه نۀ کوئې لیکن نه محسوس کیدونکې طریقې سره په تاسوکښي پیداکیږې چې تاسو په ریشتیا اوتوجه سره خپل تعلق پوره دین اوتحریک سره ندي پیوسته کړې .

## دضمیرآواز:

ماچې تراوسه پورې څه اوئیل دازما دضمیر آواز وو .

زه دجماعت اوتحریک یو ادنی خادم یم خو غواړم چې زه اوزما کور تاسو اوستاسو کور ټول په شریکه ددین اسلام کار اوکړو د اسلامی تحریک سره دپیوسته کیدلو نه بعد که چرې مونږ دعوت دین اواقامت دین کار اونۀ کړو نو په دنیا کښ به هم رانیولي کیږو او آخرت کښ به چي کومه معامله راسره کړئ نوهغه الله ته ښه معلومه ده . چې ستاسو باره کښ څه اوئیل دا زما د ډیرو وخت د مشاهدې خلاصه ده .

زه دټولو جماعتی اوتحریکی خوئیندو باره کښ داخبره نۀ کومه .

بفضله تعالی په تاسو کښ داسې قربانی ورکونکی زنانه هم شته چې هغوې اشاعت دین ، دقرآن بیان اواقامت دین دپاره خپل هرڅه قربانوی .

زما مخاطب هغه زنانه دی چې لا تراوسه پورې دحق اودباطل دفکر سمندر په غاړه ولاړې دی اوتماشه کوی اوخپل وزن دحق په چابړی کښ اچولو ته تیار نه دی .

زه غواړم چې دتحریکی کورونو داسې زنانه دې دتماشې کتلو مزاج پریږدی اوعملا جماعتی اوتحریکی قافله کښې شامل شی .

سوال دادي چې تاسوبه څه رنګه خپل ځان ددي کار دپاره تیاروئ؟
څه یوسوخبرې ستاسو وړاندې کیخودل غواړم تاسو د زړۀ نه په هغې سوچ وفکر اوکړئ توقع ده چې ان شاء الله په تاسو کښې به ضرور دینی ، جماعتی اوتحریکی جذبه پیداشی .

**آزمائش:**

په تاسو کښې هغه زنانه اوجماعت اودتحریک دذمه دارئ میاندې خوئیندې ، ښځي او لور یانې چې دی هغوی دې داهم حقیقت محسوس کړی چې الله دخپل دین دکار دپاره داکور اوددې افراد منتخب کړل اوپه دي ئے دومره غټ فضل اوکړو چې نور کورونه ددې مقابله نه شی کولي .
په زرګونو ، لاکهونو کورنو کښې ستاسو دکور انتخاب کول داڅه دلوبو ټوقو خبرې ندی بلکه دایو غټ سعادت چې ستاسو په حصه کښې راغلي دي ددي قدر اوکړئ .
په دې دالله هر لمحه شکر اداکړئي اوڅه داسې حرکت مکوئې چې په هغې سره الله خفه شی ، الله دې نکړی که ستاسو په یو حرکت سره الله خفه شونو په دې کور چې به کومه تباهی راځی .
دهغې په تصور کولو سره زړۀ په رپیدو شی .
ځکه چې دالله طرفه یوبنده ته یومقام ورکړی شی نوهغه څه ټولو ټوقو یادزړه ښه دپاره نه وی بلکه یو طرف ته یئ په آزمائش کښې

اچولو سره خالص کول غواړی اوبل طرف ته یئ دخپل دین قائمولو کولو دپاره ستن جوړول غواړې .

دغه رنګه ستاسو دکور جماعتی اوتحریکی افراد په یوغټ آزمائش کښ اچولي شوې دی اوچې کوم یو په څومره غټ منصب فائز دی نوهغومره غټ آزمائش کښ اچولی شوې دی.

نوکه دوی په دې آزمائش کښ کامیاب شو نوالله به یئ په دنیا کښ هم سربلند کړی اوپه آخرت کښ چې به کوم نعمتونه ورته ملاویږی نو هغه الله ته ښه پته ده .

ستاسو دکور جماعتی سړی اول نه یئ په آزمائش کښ مهٔ اچوئی .

بلکه په دوی رحم اوکړئی اومدد ورسره اوکړئی ددوی بوجهـ سپک کړئ .

خپل کور کښ دینی تحریکی ماحول پیداکئ او په خپل دائره کار کی ددین کار کوئې اوهغوی د کور طرف نه مطمئن کړئی اوهغوی ته ښه پوره د تحریکی کار کولو مواقع ورکئ .

دغه رنګه هغه زنانه چې پخپله دینې کار، تحریک، درس وتدریس اودعوت وتبلیغ کښ مصروف عمل دی یادتحریک اوجماعت دکارکنانو متفقین اودمتوسلین دکورونو زنانه دی نوهغوی دې هم داخبره محسوس کړی که چرې ددی کور سړو دتحریک نه دمتاثره کیدلو دوجې نه خپله زندګی نه وه بدله کړې نوپته نه لګې چې نن به په کوم حالت وې .

دا محض دالله فضل اواحسان دي چې دوی له يئ د نیکئ توفيق ورکړو اودخپل دین دکار دپاره يئ غوره کړل .

که چرې الله دي نکړې داسړی بیا دوباره خپلي پخوانئ زندګئ طرف ته لاړل نودبل چا خوبه هیڅ اونکړی البته ستاسو کور او اوستاسو اولاد به تباه شی .

د دینه په الله سره پناه غواړئ اوهغوی سره په شریکه ددین په کار کښې چې څومره تعاون کولئ شئ نوضرور کوئې .

**دینی مطالعه:**

دینی ، جماعتی ، تحریکی لټریچر ضرور مطالعه کړئې .

د قرآن وحدیث مطالعه اوکړئې په خپل کورونو کښ تحریکی ماحول پیداکئ ،په خپل بچو کښ تحریکی فکر پیداکړئ اوکومي خبرې چې دالله دخفه کولو دې هغی نه پرهیز اوکړئی.

**حلال رزق:**

دویمه اهمه خبره داده چې په حلال ذریعې سره کومه پیسه ستاسو کور ته رازی په هغې قناعت اوکړئی .

په دې کښ دخپل کور خرچه پوره کوئې .

دناجائز آمدنئ خیال چرته په هیره سره هم ذهن ته مۀ راولئ .

دخپلو سړونه داسې مطالبات مۀ کوئی چې دهغوی د وس نه بهر وی .

د خوراک څکاک ، جامو ، لوښو اودکور سامان د واده وغیره اخراجات په خپل حد کښې دننه ساتئ .

نورو خلقو ته دکتلو دوجې نه کۀ خپل څادر نه خپي اوباسۀ نودحرامې ګټې دروازه به کولاؤ شی نوپه دې دروازه به بیا دالله درحمتونو په ځائې دشیطان زحمتونه به دننه رازی .

**رشته دارئی:**

دریمه اهم خبره داده چې خپل ځوې لور رشتې په داسې کورونو کښ اوکړئې چې دینی اوتحریکی کورنۍ وی .

بدقسمتۍ سره په تحریکی کورونو کښ هم داوباء راننوتې ده چې پلار به ترڅۀ حد پورې تحریکی فکر لرونکې وی .

لیکن ددوی داولاد تحریکی تربیت نه کیدلو دوجې نه ددوی مزاج به تحریکی نه وی .

داسې صورتحال درشته کولو والا دپاره دغټ غم سبب اوګرزی .

په داسې موقعو کښې دتندهۍ نه کار مۀ آخلۍ بلکه که هلک یاجینۍ ستاسو خوښ شی اوتاسو د هغوی په کور کښې درشتې کولو فیصله کړې وی نود هغوی کور خپل کور اوګنړئې اودمحبت اوهمدردئې په انداز کښ ددغه کور تحریکی افراد پوهه کړئی.

چې دخپلو بچو دینی اوتحریکی تربیت اوکړی .

ستاسو په کور کښ چې کوم تحریکی افراد دی نودهغې په ذریعه سره ددغه کور هلک یاجینۍ سره ملګرتیا جوړه کړئې اوپه هغوی لټریچر اوائی ، درسونو ، بیانات ، پروګرامات ، اواجتماعاتوته د بوتللو

اونور تحریکی جماعتی کارونو سره ورله درغبت پیداکولو کوشش اوکړئی .

په دې کار به لګ ډیر وخت ضرور لګی لیکن داکار به د دوؤ اجرونه خالی نه وی یوداچې ستا په کوشش سره یو فرد تحریکی جوړ شو اودویم داچې تادتحریکی کورنو دپاره یوداسې ژوندې مثال قائم کړو چې کیدیشې ستا په نقش قدم باندې ډیرې کورنۍ روانې شی چې داسې هلکان یاجینکۍ ستاسو کورته وادۀ شی نوستاسو په کور کښې به یو تحریکی فرد زیات شی نودې دپاره به مددکوؤنکی اوګرزی .

د خپلو بچو ودونه کولو نه بعد بی فکره مۀ کینۍ بلکه مسلسل هغوی په دینی اوتحریکی کارونو کښې مصروف کوئی ځکه کۀ چرې ددوی دځوانۍ توجهات په نیغه لار باندې روان نکړی شو نو په بله لار به روان شی .

ددینه بعد دوباره سمولو باندې به تاسو ډیر تکلیف اوچتوئی.

د مالدارئی حسن وجمال ، اعلیٰ تعلیم ، اوچتې عهدې خائسته کور او د بینک بیلنس وغیره په چکرو کښې مۀ پریوځۍ دداسې کورنو هلک یاجینۍ ستاسو دپاره دسکون او دین اوجماعت دپاره دفائدې باعث نه جوړیږی .

که چرې په تحریک کښې داسې افراد وی نو نور علی نور دی ، خولیکن دخپل ځوی یادلور دنیاوی ژوند په سکون سره تیریدلو په

نیت د دنیا پرست خلقو سره رشتې کول دینی اوتحریکی افرادو سره نه ښائی اونۀ ددین په حق کښې فائده مند وی .

کیدیشی داسې خلقو سره رشته قائمولوپه نتیجه کښې ستاسو اولاد خو په دنیا کښې سکون سره وی لیکن قیامت په ورځ الله تاسو اونیسی اوستاسو عاقبت (انجام) خراب کړی نو دا سودا به د نفع وی که د نقصان تاسو سوچ اوکړئې .

## دنیا پرستی:

څلورمه خبره داده چې د دنیا پرستو سره د دوستئ کولو ، باربار د هغوی کورنو اوپروګراماتو کښې دشرکت کولو او د هغوی دشان دشوکت تذکرې کولو نه پرهیز اوکړئی ځکه دین پرستی اودنیا پرستی دواړه دیوبل مخالف څیزونه دی .

ددنیا پرستئ په لوازماتو کښې اوددې په شان وشوکت کښې داسې کشش دې چه ته ډیر کوشش هم اوکړې نود هغې اثراتو نه خپل زړۀ او د ماغ نشئ بچ کولئ .

ددوی د زندګئ رنړه ګانوته اوددوی دفریب نه ډک ژوند ته باربار دکتلو دوجې په خوله کښې ورته اوبۀ راځی اوپه زړۀ کښې دخپلې محرومئ احساس اوړی راوړی .

شیطان خوپه پوزه کښې ناست دې هغه ستاسو په خوله دشکایتونو اومطالباتو یودفتر راوړی اوکیږدی .

که تاسو کورته راشئ نوخپل سړی تنګ کړئ چې مونږ له هم فلاني فلاني څیز پکار دي .

اوستاسو دذهن نه داحقیقت بلکل ختم کړی چې ستاسو دسړو حالت داسي نه دي چې هغوی ستاسو مطالبې پوره کړی ، یاکه چرې دهغوی حالت ښه دي نوآیا ددي څیزونو په ریشتیا تاسوته ضرورت هم شته یادا د زندګئ دلوازماتونه دی که نا .

دغه رنګه ستاسو باربار دنیا پرستو سره ملاویدل ډیرې فتنې پیداکوی .

دي وجي نه دداسې صحبتونونه پرهیز اوکړئ.

البته د تحریکی کار په نقطه نظر سره دوی سره رابطه پیداکول ضروری دی .

لیکن هرلمحه داخیال ساتئ چې تاسو هغوی لره متاثر کړئی، داسې نه وی چې تاسوترې متاثره شئ.

## غریبې تحریکی خوئندې:

پنځمه خبره داده چې دځان نه کم درجې اوغریب دینی اوتحریکی خوئیندو سره او د هغوی دکورنو سره رابطه پیداکړئې.

ددوی سره تعلق زیات کړئې . ددوی په غم خادئې کښې شریک کیږئې .

ځکه چې ددي غریبانانو په زړونو کښې دالله ددین دپاره خلوص زیات وی اودوی سره په ملاویدوسره دالله هغه نعمتونه یادیږی چې دهغوی نه زیات تاسوته ملاؤشوی دی،زړه به مو دالله د شکر نه ډک شی .

داسې تحریکی خوئیندو سره رابطه پیداکولو کښي دډیر احتیاط کولو ضرورت دي .

مثلا کۀ د دوی کمتر حالت ته اوګورئ نوچرته ستاسو په زړۀ او دماغ کښ فخر اوغرور پیدانه شی چې زه خوددوی نه په ښه پوزیشن کښې یم .

ددوی دکم علمې دوجې نه ستاسو په ذهن کښي په خپله عالم کیدلو باندې فخر پیدانه شی .

د دوی خیمه اومات ګوډ اووړوکې کور اوددوې په کور کښي معمولی سامان ته کتلو سره سرمۀ اوچتوئی چې زما کور خوددینه ډیر شاندار دي، بلکه داخپله خور اوګنړئې ، قدر یې اوکړئ ، خپل ځان ته یئ نیزدې کړئ .

دی احساس ته یې مۀ پریږدئ چې دنیا پرست خومې خواته هسي هم نه رائی اودادین پرسته ده اوداهم رانه لرې تختی .

غریب ډیر مخلص وی د دوی زړونه د خود غرضئ نه پاک وی ، ددین په خبره پوهه شی نود هرطرف نه ځان خلاصئ اوددین دحفاظت دپاره خپل ځان هم قربانی کړئ .

که تاسو یئ ځان ته نیزدې کړئ نویقین اوکړئې چې تاسوبه په خپل زړۀ کښ کینوی .

## نمائشی لباس:

شپږمه خبره داده چې کله تاسو جماعتی اوتحریکی کورونو ته ورځی ددرس قرآن خلقوته ، پروګراماتو اواجتماعاتو ته ورځئ یادچا دعوت وغیره له ورځی نوددنیا پرستو په شان نمائشی لباس اوکالو نه ډک مهٔ ورځئ اومهٔ خپل بچی داسې حالت کښ بوځئ چې ښه پوره موجوږ کړې وی او سنګار کړې وی بلکه ښهٔ ساده لباس کښ ورځئ اوکه الله درله کالی .

(زیورات) درکړې هم وی نوسپک شان کالې واچوئې اوورشئ.

ځکه تاسو دیو دیندار او د تحریکی کورنئ فرد یئ تاسو به دخپل طور طریقو ، لباس ، خبرو وغیره نه داثابتوئ چې تاسو د دنیا د خائست سره مینه نه لرئ بلکه د آخرت طلب ګار یئ .

الله دي نه کړی که چرته تاسوداسې اونکړل نوپه تاسو کښې اویودنیا پرست زنانه کښ به هیڅ فرق پاتې نشی .

په دې خبره هم سوچ اوکړئې چې ستاسو ډیرې داسې تحریکی خوئیندي دی چې هغوی سره هغه څیزونه نیشته کوم چې تاسوسره دی که تاسودېرق پړوق والا جامو اوکالو نمائش دهغوی وړاندې کوئ .

نو د هغوی به ورته هم په خولهٔ کښې اوبهٔ راځی . دهغوی په زړهٔ کښ به هم خواهش پیداکیږی چې کاش ماسره هم داسې څیزونه وې اوچې کورته لاړې شی نوخپلو سړو ته به شکایت کئ چې مونږه مو کنګال (خالې ) کینولې یو .

کیدیشی هغه خپل قسمت ته ردې بدې اوائی اوالله نه ګیله اوکړی چې هغوی له خودې هرڅه ورکړې دی اوپه مونږ دې ظلم کړې دي .

ددی ټولو ذمه دار به تاسو یئ کۀ تاسو په داسې اهتمام کولو سره نه تلئ نوداخبری به نه پیداکیدلئ .

تاسو سوچ اوکړئې چې ددی صورتحال ذمه دار څوک دی ؟

نودې وجې نه تاسو هم دینه پرهیز اوکئ اوخپل اولاد هم ددی مزاج نه بچ کړئې .

**اوومه خبره داده:**

تاسو له دینی اوتحریکی کار کول دی اوپه هر حال کښ کول دی، کله داسې هم کیږی چې تاسو کار شروع کړئې نو دیرې زنانه ستاسو سره ملګرتیا کښ جمع شی نوپه داسې موقع ستاسو زړۀ دخوشحالئ نه ډک شی اوستاسو داخیال وی چې زماکار ته خووزرې اولګیدلي اوزما خبره خوریګی .

اوکله داسې هم کیږی چې تاسو کار شروع کړو خویو ملګرې هم نه ملاویږی په دې باندې میاشتې اوکلونه هم لګیدلي شی .

تاسو ښه پوره کوشش هم کوئې خولیکن ستاسو په آواز څوک لبیک نه وائی .

کله داسې هم اوشی چې تاسو ډیر په ګرانه سره درې څلور ملګری راجمع کړی وی نوهغه هم درنه بل څوک واخلی.

صرف دانه بلکه ستاسو په کار کښ به نقص راوستلی کیږی به پیغورونه درکړې کیږی .

خندا او ټوقۀ کولي شی ستاسو درس کول، تقریر کول ستاسو بل ته کتاب وئیل داټول د نورو دپاره د لوبو ټوقو یو موضوع اوګرځی اوخلق ستاسو نقل کۀ .

دا ټول څیزونه داسې دی چې په دې سره ستاسو لرې کیدل او مایوس کیدل یوفطری خبره ده .

تاسو به په دې سوچ کولو مجبوره شۀ چې زه خودومره په اخلاص اودرد سره خپلي خوئیندې دالله دین طرف ته رابلمه اودالله بندیانې دي چه دي طرف ته راتللو ته نۀ تیاریږی .

په دې سره به تاسو په دې سوچ کولو مجبوره شۀ چې زه پریږدمه داکار شاید دا زما نه دکیدلو نه دي ، داسي خیالات به تاسوته راځی اوتاسو به خفه کوی .

په دې سلسله کښ یو ځوخبرې ښه طریقې سره په ذهن کښ کینوئې داکار به په تاسو هر حال کښ کول وی ، اګر که یوملګری ملاؤشی یالس شل ملاؤشی یایوهم ملاؤنشی .

ستا کار صرف خلق دالله دین ته رابلل دی .

تاسو ددی ذمه دارنه یۀ چې خلق دالله په دین چلیدونکې اوګرځوۀ که څوک دالله دین طرف ته راځی نودا د هغه خوش نصیبی ده ، او چي څوک نه راځی نودا د هغۀ بدنصیبی ده .

تاسو دین طرف ته بلنه ورکړه او کومه طریقه چې دبلنې ده هم په هغې طریقې مو راوبلل نوستاسو ذمه داری ختمه شوه .

چاله هدایت ورکول اوچاله نه ورکول دادالله به ذمه دی .

تاریخ وائی چې ډیر انبیاؤ کرامو علیهم السلام به ټول عمر خلق دالله دین طرف ته رابلل خوپه ټوله آبادئې کښې به یوڅوکسانو ایمان راوړو .

اوډیر انبیاء کرام علیهم السلام داسي هم تیرشوې دی چې په هغوی باندے،سره دخپل پوره کوشش نه یوکس هم ایمان نۀ وو راوړې نوایا انبیاء ناکام شوځۀ ؟

نا ، بلکل نا ، انبیاء ناکام نۀ شو بلکه ناکام هغه کلے اوقوم والا شو .

داحقیقت په خپل ذهن کښې اوساتئ .

دې کار کولو کښې دخلقو دکثرت دوجې نه دخوشحالې نه غټیدل ندی پکار اونه دخلقو په نۀ راتلو یاراشی خوواپس لاړشی نوپه دې سره بې همته او زړۀ خفه کول هم نه دی پکار که خلق ډیر راځی .

نو د الله شکر اداکول پکار دې او که خلق کوم راځې یاهیڅ څوک هم نه راځی نو خپلو کمو اوکوتاهو طرف ته نظر کول اودخپلې اصلاح فکر کول پکار دی .

چې آیا زما دبیان په اندازو ګفتار کښ څه فرق دي یاپه ماکښې دکردار واخلاقو کمې ده یادنور څه.

دا خیال شیطانی خیال دي که ته چاله دعوت ورکړي اوهغه راشی نوته به هغه وخت کار کوی او که څوک رانشي نوتاسوبه داکار پریږدئ ، دا شیطانی وسوسه ده دا د خپل زړۀ او د ماغونه زر تر زره اوباسئ .

د دین کار ډیر د زړۀ درد ، حکمت او ایثار اوقربانی غواړی او ددي نتیجه هم ډیر وخت بعد راوځی .

ځکه دا ژوندو لره ، دبهر نه نه بلکه ددننه نه دبدلولو والا کار دي .

په دي کار کښ چې څومره ځان اوسوزولي شی نوهغومره به اجرهم ملاویږی .

## دعاکوئې:

آخری خبره داده چې کله هم په دې خوش فهمئ کښ مۀ اخته کیږئې چې دالله ددین داکار صرف ستاپه محنت سره ، علم سره ، روپو پیسو باندې او د خلقو په جمع کیدلو سره به کیږی.

داکار به هله کیږی چې دالله فضل شامل حال وی تاسو په خپل هیڅ صلاحیت باندې اعتماد مکوئې بلکه دالله په ذ ات اعتماد کوئې .

او د دین اوداقامت دین کار په پوره خلوص سره کول اوهمیشه خپل ځان دپاره دخپل کور جماعتی اوتحریکی سرو دپاره دخپلو نورو تحریکی خوئیندو دپاره اوجماعت اوتحریک دپاره دعاکوئی.

په دعاګانو سره غټ غټ مصائب ختمیږی .

یو انسان د الله ددین کار کئ اودالله نه مدد ونصرت طلب کئ نو د هغه فضل چې کمو کمو لارو سره مدد کئ نودهغې مونږه تصور هم نه شو کولي .

## عزتمندوزنانؤ:

ما د الله د دین اودیو اسلامی جماعت اوتحریک دمفادو په خاطر خپله خبره بغیر څه د جذباتو اویري نه تاسوته اووئیله .

زه تاسوته درخواست کومه چې تاسو په یخودماغو او زړه سره اوسنجیدګئ سره په دې خبرو سوچ اوکړئې .

که کمه خبره ستاسو په زړۀ اثر اوکړی نودالله نوم واخلئ اوملا ورته اوتړئې اوددین کار په ټولو کارونو وړاندې کړئې اوداکار شروع کړئې .

**ژوند مختصر دي او کار ډیر پروت دي هسې نه چې مونږ غافل یو یا د دنیا په رنړه ګانو کښ ګیر یو او د مرګ فرشته راشی اوځان سره مویوسی .**

**او د دینه بعد بیا د الله دربار ته خالی لاس ور روان یو اولاسونه مروړو نوهیڅ فائده به نه ورکئ .**

**الله تعالی دې مالره ، زما کور ، اوستاسو کور لره د دین او د اسلامی تحریک دپاره بې لوث خادمان اوګرځی .**

آمین یارب العالمین.